د افغانستان د خونديِ اسنادو د چاپ دولتی شرکت
شرکت دولتی طبع اسناد مصئون افغانستان
Afghanistan High Security Printing SOC

د افغانستان اسلامی امارت
د ماليې وزارت
د خونديِ اسنادو د چاپ دولتي شرکت

# پروفایل شرکت دولتی

# طبع اسناد مصوون افغانستان

# PROFILE

## AFGHANISTAN HIGH SECURITY PRINTING SOC



www.ahsp.af info@ahsp.af +93 (0) 20292 4565 پته: جنګلک، د چهلستون عمومي سرک، اوومه ناحیه، کابل افغانستان

## د کمپنۍ پېژندنه

د افغانستان جمهوری دولت د کابينې مصوبه چې د سرطان مياشتې ۱۳ کال ۱۳۹۴ کې د ماليه وزارت هاغه طرح چې د صکوکو مطبعه به تجهيزوي منظوره کړه او دا وزارت يې موظف کړ ترڅو لومړې د خوندي اسنادو د نوي تعمير ځمکه به د کابل ښاروالۍ او د اراضي مستقلې اداری سره به هماهنگۍ د جنګلک په سيمه کې ترتيبوي او همدارنګه به د يادې مطبعه حقوقی شخصيت د تصدی څخه شرکت ته اړوي.

۱۳۹۷ کال کې د خوندي اسنادو پروژې چارې عملاً پيل شوی چې د آلمان دولت د GIZ موسسی د هر اړخيزې ارزونې څخه وروسته البته د آلمان دولت د König und Bauer (KBA) دولتی مطبعې د تخنيکی مشارويت په مشورې د خوندي اسنادو چاپ ځانګړي شرکت طرح وړاندی شوه چې په همدې کال کې د ياد شرکت اساسنامه د وخت د دولت د کابينی له لوري منظور شوه او شرکت ته په تجارت وزارت کې جواز هم واخيستل شو. همدا شان د افغانستان دولت مشرتابه په دې نظر وو چې د افغانستان ټول مهم دولتي او غير دولتي اسناد دې په کور دننه، په نړيوال معيار او په داسې بڼه چاپ کړي چې قابل د تقلب نه وي. دی هدف ته د رسيدو په پار د افغانستان خوندي سندونو چاپ دولتي شرکت د ۱۳ – ۹ – ۱۳۹۷ نيټې د تير نظام عالي مقام ۲۱۸۹ ګڼې حکم په اساس د افغانستان دولت خوندي سندونو اړتياوو پوره کولو لپاره جوړ او په ۱۳۲۵ ګڼې رسمي جريده کې په ۱۷ – ۹ – ۱۳۹۸ نيټه کې خپور سو. همدا شان يو دايمي کاري کميسيون د خوندي سندونو معياري کولو په پار په ۳ – ۴ – ۱۳۹۶ نيټې د تير نظام عالي مقام ۱۱۸۵ ګڼې حکم په اساس د ماليه وزارت تر چتر لاندې د عدليه وزارت، کورنيو چارو وزارت، بهرنيو چارو وزارت، د افغانستان علومو اکادمی او د چارو اداري لوی رياست با صلاحيته غړو په عضويت تشکيل شوې ترڅو د ټولو دولتي او غير دولتي اسنادو بياکتنه وکړي او د ديزاين او ژبې له اړخه يې غني کړي.

د خوندی اسنادو چاپ دولتی شرکت دری فازونه لري چې لومړې يې د کاغذی اسنادو چاپ، دويم يې د پولی کاربونيت او پاسپورتونو چاپ او دريم يې د بانکنوټو چاپ دی. ددی شرکت اوس لومړی فاز فعال او د دويم او دريم فاز فعالولو لپاره پلانونه د ماليه وزارت مقام او رهبری سره شريک شوی دی.

## مرکزي دفتر

جنګلک، چهلستون، کابل، افغانستان

## د شرکت ليد (Vision)

د خوندي اسنادو چاپ دولتی شرکت بايد تر ټولو مخکښ، باوري او غوره واحد منبع ووسي چې په افغانستان او سويلي مرکزي آسيا کې د دوامداره خوندي ديزاين، د سندونو چاپ او د خوندي اسنادو اړوند مشورې او د ستونزو حلولو ځای وي.

## ماموريت (Mission)

د خوندي اسنادو چاپ دولتي شرکت خپلو پيرودونکو ته تخليقي او د باور وړ، د جعل ضد خوندي چاپ او د خوندي اسنادو اړوند بهترينه خدماتو وړاندې کول دي.


## موخه (Goal)

د خوندي اسنادو چاپ دولتي شرکت موخه دا ده چې د افغان حکومت سره د جعل او تذوير مخنيوی او له منځه وړلو کی د اسنادو په خوندي او معياری کولو او پراخ تطبيق له لارې مرسته وکړي. همدا شان په سويلي منځنۍ اسيا سيمه کې افغانستان د سوداګريزو شريکانو په کچه خوندي اسنادو چاپ معرفي کړي.

## پیرودونکي

د بازارموندې د پلان له اړخه د خوندي اسنادو چاپ دولتي شرکت د خپل پیرودونکي په لاندي درېو برخو ویشي

١. ټول دولتي اداري: د خوندي اسنادو چاپ دولتي شرکت د خپل فعالیت په لومړیو کې غواړي خپل خدمات د افغانستان دولت ټولو هاغو اداراتو ته ځانګړي کړي چې د خوندي اسنادو چاپ ته ضرورت لري.
٢. خصوصي سکتوری: کله چې د خوندی اسنادو چاپ دولتی شرکت وکولی شي د افغان حکومت ضرورتونه پوره کړي، بیا به خپل د چاپ ظرفیت زیاتوي ترڅو وکولی شي په افغانستان داخل آزاد بازار کی د رقابت له لوري خپل خدمات خصوصي سکتور اداراتو ته وړاندی کړي.
٣. نړیوال بازار: د پورته ذکر شویو دوه فازونه څخه وروسته به د افغانستان خوندي اسنادو چاپ دولتی شرکت خپل خدمات د ازاد رقابت له لوري نړیوال بازار کی پیلوي.




## محصولات/خدمتونه

د افغانستان خوندی اسنادو چاپ دولتی شرکت خپل محصولات او خدمات په لاندی درېو فازونو کې وړاندی کوي.

### د کاغذی اسنادو چاپ

د خوندي اسنادو چاپ صنعت مختلف فازونه لري چې د دا شرکت د کاغذی اسنادو چاپ لپاره ټول وسایل او بشري قوا لري. د کاغذی اسنادو چاپ چاري عملاً پیل دی او دا شرکت د دولتی اداراتو مختلف اسناد چاپ او ځینی یی د چاپ لاندی دي.

### د پاسپورت او پولی کاربونیت کارتونو چاپ


دا شرکت د خوندي اسنادو دویم فاز چاپ لپاره بشري ظرفیت لري، او ځینو وسایلو په اضافه کولو سره کولی شي خپل دویم فاز هم فعال کړي چې د شرکت رهبري عملاً ددی فاز فعالولو لپاره د افغانستان دولت رهبري سره په تماس کی دی او خپل طرح او پلانونه یی د دولت رهبري ته سپارلي دي.

### د بانکنوټ (کرنسي) چاپ

کله چې د افغانستان خوندي سندونو چاپ دولتي شرکت وکولی شي خپل دویم فاز فعال کړي، بیا به د دریم فاز فعالولو لپاره خپل طرحي او پلانونه د دولت رهبري سره شریک کړي. د هیره د نوي چې د خوندي اسنادو چاپ دولتی شرکت د خپل دریم واړو فازونو د فعالولو لپاره آماده پلان لري.

د افغانستان خوندي اسنادو چاپ دولتی شرکت د اسنادو قیمت معلوملو لپاره یوه کمیته لري چې د تخنیکی اشخاصو څخه تشکیل شوی، یاده کمیته د اسنادو تمام شوی نرخ معلوموي او بیا نړیوال بازار ته په کتو او د سند ارزښت ته په کتو د یاد سند قیمت ټاکي.

د خوندي اسنادو چاپ دولتی شرکت ټول اسناد پیرودونکي ته په خپل ګدام کي تحویلوي چې د کابل ښارپه جنګلک سیمه کی شتون لري.




## د تولید او خدمتونو وړاندې کولو اوسنی او احتمالی ظرفیت

لاندې جدول د شرکت د تولید ظرفیت، د کارکونکی تعداد او د شرکت احتمالی ظرفیت ښکاره کوي.

| # | محصولات/خدمتونه | واحد (Unit) | اوسنی ظرفیت | احتمالي ظرفیت | نظرونه |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د کاغذی اسنادو چاپ کلني ظرفیت | میلیون | ۸ – ۹ | ۱۵ – ۱۷ | احتمالی ظرفیت په هاغه صورت کی چی اضافه کاری ورسره ترسره شي. |
| 2 | د پاسپورټ او پولي کاربونیټ کارتونو چاپ لپاره پلان شوی ماشینونه | میلیون | ۰ | ۳ | که چیرته پلان شوی ماشین آلات واخیستل شي، دا شرکت به د کال ۳ میلیونه پاسپورټ چاپ کړي. |
| 3 | د محصولاتو قسمونه | | ۱ | ۰ | ټول خوندي اسناد |
| 4 | داستخدام اندازه (مستقیم/غیر مستقیم) | نفر | ۵٦ | ۱۱۰ | |


پورته جدول ته په کتو ویلې شو چې شرکت اوس د کاغذي اسنادو چاپ ترسره کوي چې د کال د ۸ – ۹ میلیونه A4 سایز کاغذی اسناد ظرفیت لري. البته که چیرته فرمایش زیاتیږي او یا نوی مارکیټ پرانیستل کیږي نو بیا د تولید ظرفیت تر ۱۷ میلیونه پورته کیدی شي. همدا شان لکه څرنګه چې مخکې وویل شول شرکت خپل پلان د دویم فاز لپاره د دولت رهبري سره شریک کړي او که چیرته ماشین آلات په خپل وخت واخیستل شي د کال به تر ۳ میلیونه پاسپورټ او پولی کاربونیټ کارتونه چاپ کړي.

د خوندي اسناد چاپ دولتي شرکت فلحال ۵٦ کارمندان لري چې اکثریت یې د رقابتي استخدام له لارې شرکت کی استخدام شوی دي.

## مالي معلومات

په یو پاڼه کې په جلا توګه د شرکت د مالي بیاناتو په اړه په لنډ ډول معلومات چمتو کړئ.

| د ګټې او تاوان صورت حساب<br>د ۱۴۰۱ کال څخه تر ۱۴۰۳ (یو کال حقیقي او دوه کاله وړاندوینه) | | | |
|---|---|---|---|
| | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ |
| عواید | ۱۹۷،۸۲۲،۵۰۰.۰۰ | ۲۱۷،٦۰۴،۷۵۰.۰۰ | ۲۲۷،۴۹۵،۸۷۵.۰۰ |
| بشپړ شوي لګښتونه | ۴٦،۲٦۳،۴۸۱.۰۰ | ۵۰،۸۸۹،۸۲۹.۱۰ | ۵۳،۲۰۳،۰۰۳.۱۵ |
| نا خالصه ګټه | ۱۵۱،۵۵۹،۰۱۹.۰۰ | ۱٦٦،۷۱۴،۹۲۰.۰۰ | ۱۷۴،۲۹۲،۹۷۱.۸۵ |
| عملیاتي لګښتونه | ۱۲۸،۴۳۷،۵۵۸.۰۰ | ۱۴۱،۲۸۱،۳۱۳.۸۰ | ۱۴۷،۷۰۳،۱۹۱.۷۰ |
| مالیات | ۷،۹۱۲،۹۰۰.۰۰ | ۸،۷۰۴،۱۹۰.۰۰ | ۹،۰۹۹،۸۳۵.۱۵ |
| خالصه ګټه | ۱۵،۲۰۸،۵٦۱.۰۰ | ۱٦،۷۲۹،۴۱۷.۱۰ | ۱۷،۴۸۹،۸۴۵.۱۵ |




| د بیلانس شیټ صورت حساب<br>د ۱۴۰۱ کال څخه تر ۱۴۰۳ (یو کال حقیقي او دوه کاله وړاندوینه) | | | |
|---|---|---|---|
| | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ |
| **شتمني** | ۵،۴۹۵،۸۵۲،۶۰۴.۰۰ | ۵،۵۱۲،۹۶۸،۰۷۸.۱۰ | ۵،۵۳۲،۱۰۶،۷۹۵.۲۵ |
| جاري شتمني | ۴،۶۷۷،۱۹۲،۰۸۳.۰۰ | ۴،۶۹۴،۳۰۷،۵۵۷.۱۰ | ۴،۷۱۳،۴۴۶،۲۷۴.۲۵ |
| ثابته شتمني | ۸۱۸،۶۶۰،۵۲۱.۰۰ | ۸۱۸،۶۶۰،۵۲۱.۰۰ | ۸،۶۶۰،۵۲۱.۰۰ |
| **پورونه** | | | |
| جاري پورونه | ۴۳۸،۳۷۹.۰۰ | - | - |
| اوږد مهاله پورونه | ۷،۰۶۲۳۵۳.۰۰ | ۷،۸۸۶،۷۸۹.۰۰ | ۹،۵۳۵،۶۶۱.۰۰ |
| **سرمایه** | ۵،۴۸۸،۳۵۱،۸۷۲.۰۰ | ۵،۵۰۵،۰۸۱،۲۸۹.۱۰ | ۵،۵۲۲،۵۷۱،۱۳۴.۲۵ |
| **قروض + سرمایه** | ۵،۴۹۵،۸۵۲،۶۰۴.۰۰ | ۵،۵۱۲،۹۶۸،۰۷۸.۱۰ | ۵،۵۳۲،۱۰۶،۷۹۵.۲۵ |

پورته جدول د ۱۴۰۱ شمسی کاله څخه تر ۱۴۰۳ شمسی کاله پورې د شرکت شتمني، پورونه او سرمایه ښکاره کوي

## پرمختیایي پلانونه

د خوندي اسنادو چاپ دولتی شرکت د خپل ظرفیت د پورته کولو په پار لاندی ځینې پراختیایي پلانونه لري چې په خلاصه ډول یې یادونه کیږي.

### د لومړی فاز (کاغذی چاپ) لپاره

۱. Gumming Machine چې د چاپ څخه وروسته پروسي لپاره پکار دی
۲. Numbering Machine چې د سیریل نمبر لپاره پکار دی ترڅو شته ظرفیت کی زیاتوالی راشي
۳. Perforation machine چې په شته ظرفیت کی د زیاتوالی په پار په پلان کی نیول شوی

### د دویم فاز (پاسپورت او پولی کاربونیت کارتونو چاپ) لپاره

۱. د پاسپورت چاپ لپاره یو مکمل لاین ته ضرورت دی Passport printing line machines
۲. د پولی کاربونیت کارتونو د چاپ لپاره یو مکمل لاین ته ضرورت دی Polycarbonate card printing line


## لاسته راوړنې (له یو څخه تر دوو پراګرافونو پورې)

په مشخص ډول لاندې لاسته راوړنې د یاد وړ دي.

- ظرفیت جوړونه: دا شرکت په نړیوال معیار او مډرنې تکنالوژۍ سمبال د خوندي اسنادو چاپ ماشین آلات، د خوندی اسنادو ډیزاین کولو لپاره د مجهزې ستیدیو لري. مسلکي انجینران او ډیزاینران چې په خپل مسلک کې یې په نړیوالو معتبرو پوهنتونونو کې متعدد مسلکی او تخصصي ترینګونه اخیستي استخدام شوي. همدا شان د سایبر سیکوریتي  په برخه کې د آی تی برخې مجرب انجینران لري چې ددې شرکت د معلوماتو په خوندي کولو کې رغنده رول لوبوي. د یاد وړ دی چې دا شرکت په تجارتی او مالی او اداري برخه کی مجرب کارمندان لري چې هر یو یی په خپل برخه کی د لوړو زده کړو ترڅنګ کافی کاري تجربه هم لري.
- د خوندي سندونو په هکله بیلا بیلو دولتي ادارو ته د خوندي سندونو د ارزښت، ډیزان او چاپ اړوند عامه پوهاوې ورکړل شوی. همدا شان د خوندي سندونو د چاپ برخه کې نوې عایداتي سرچینو پیژندلو اړوند دولتي اداراتو سره همغږي تر سره شوي تر څو په نیږدې راتلونکې کې د دولت مهم او بهاداره اسناد لومړی تفکیک او بیا خوندي ډیزاین او چاپ شي.
- لله الحمد د اسلامی امارت په راتګ سره او ددی شرکت د فعالیت په لومړې کال مو وکولای شول چې د خپل د عوایدو پلان سل سلنه تطبیق او ټاکل شوی عواید تر لاسه کړو. تر دې دمه مو د بیلابیلو وزارتونو او اداراو څخه آردرونه (فرمایشات ) ترلاسه کړي چې تعداد یې ملیونونه پانو ته رسیږي او یو زیات شمیر یې چاپ او پیرودونکو ته ور رسولی هم دي. د یادونې وړ ده چې د یادو اسنادو له جملې څخه یې د بهرنیو چارو وزارت (۸) قطعي اسناد، د پوهنې وزارت (۲) سوه زره د دولسم ټولګی شهادتنامې، د مالیې وزارت د ګمرکاتو معینیت ۵ قلم اسناد چې تعداد یی د دریو میلیونه څخه زیاد دی، د نفت او ګازو دولتي شرکت (۸۰۰۰) جلده کتابچې، د افغانستان بانک (۱۰۰۰۰) لس زره د چکبوکونو کتابچی، د زراعت وزارت ستیکرونه او داسی نور چې ډیزاین شوی او یا د چاپ په حال کی دي.

## سازماني جوړښت

د خوندي اسنادو چاپ دولتی شرکت د اجرایه کمیټې جوړښت په لاندې ډول دی.




لاندې جدولونه په شرکت کې د زده کړو، کاری تجری او سن له مخې د کارمندانو تعداد ښکاره کوي.

| تعداد | د زده کړې کچه |
|---|---|
| ۱ | داکتر |
| ۳ | ماستر |
| ۳۳ | لسانس |
| ٦ | فوق بکلوریا |
| ۸ | بکلوریا |
| ۵ | بیسواد |

| تعداد | تجربه (کال) |
|---|---|
| ۰ | پورته ۳۰کالو |
| ۰ | 30-21 کالو |
| ۹ | 20-11 کالو |
| ۳۰ | 10-5 کالو |
| ۱۳ | لاندې 5 کالو |

| تعداد | عمر |
|---|---|
| ۰ | ٦٠-٦٤ |
| ۰ | ٥٠-٦٠ |
| ٦ | ٤٠-٥٠ |
| ٣٧ | ٣٠-٤٠ |
| ١٣ | ٢٠-٣٠ |




## جایزې او سندونه (Awards and Certificates)

دا شرکت چې د خوندي سندونو په برخه کې فعالیت کوي او پلان لري چې د سندونو د لا معیاري کولو په برخه کې نړیوال جوازونه تر لاسه کړي، په همدې برخه کې یې ANSA اداري ته خو ځلې د استندردنو تر لاسه کولو په پار مکتوبونه استولي، خو ANSA اداري تراوسه زمونږ سره استندردونه ندي شریک کړي. باید وویل شي چې دا شرکت د تجارت برخه جواز چې د صنعت او تجارت وزارت څخه یې ترلاسه کړی د ځان سره لري.

## ټولنیز مسؤلیت

۱- د ملي او نړی وال اعتبار تر لاسه کولو لپاره د ډیزاین، چاپ او کیفیت لوړوالي په پار هراړخیزی هلې ځلې شوی دي.
۲- د ځان بساینې، خدماتو کیفیت لوړوالي او د عوائدو د کچې زیاتولو لپاره ،ګمرکي سندونه، تحصیلي سندونه، بانکي سندونه ، محاکمو سندونه او داسي نورو خوندي سندونو د چاپ کولو په برخه کې مسؤلیت لري ترڅو وکولای شي د جعل کاري او درغلي مخنیوی وشي.
۳- دا شرکت ژمن دی چې د چاپیریال ساتنې په برخه کې هر اړخیزه هڅې ترسره کړي ، لکه د کیمیاوي ضایعه شویو مضرو توکو لپاره مشخص ځای ټاکل.

## ارتباطي وسیلې

دا شرکت د خپل رسمي ویبایت له لوري د خپل اړوندو اسنادو او نورو هاغو معلوماتو په هکله چې باید عام شي عامه پوهاوی ترسره کوي حالان دا چې دا شرکت په ټولنیزو رسنیو لکه فیسبوک او انستاګرام کې هم خپل اکونټونه لري چې د عام مسایلو هلته خپروي.

شماره تماس : ۰۲۰۲۹۲۴۵۶۵

ایمل آدرس : sales@ahsp.af، info@ahsp.af

ویب سایت : www.ahsp.af

فیسبوک: ahsp-soc